# شتمنی SHTAMANAI
اوونیزه

امارت اسلامی افغانستان

مـوږ د اسـلامي امـارت ټولـو مسـؤلينو تـه د اللـه تعالـی لـه دربـار څخـه توفيـق غـواړو، چـې لـه خپلـو او ستاسـو غونـدي ځوانانـو لـه اسـتعدادونو څخـه د هيـواد پـه جوړونـه کـې ګټـه واخـلي، د ماليـې وزارت سـتونزي حـل کـړي، مسـلکي اداره رامنځتـه کـړي او ګـران افغانسـتان تـه پرمختـګ ورکـړي.

د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخند

چهارشنبه | د ربیع الاول ٥ - ١٤٤٥ / د وږي ٢٩ - ١٤٠٢ /د سـیپتمبر ٢٠ - ٢٠٢٣ /دوهم کال / ٦٦ ګنه/ ٤ مخیز



## د دولتي شرکتونو د ارزوني کمېټې پلاوي د یو شمېر نورو دولتي شرکتونو عملي چاري و ارزولې




د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه اميرالمؤمنين (حفظه الله) لـه لـوري د دولتي شرکتونـو د وضعيـت ارزوني په موخـه د مولوي احمـد جـان بـلال، پـه مـشرۍ د ټـاکل سـوي ځانګـړي، ګـډي، تخنيکـي او مسـلکي کمېټـې چـې (د ماليـې وزيـر الحـاج مـلا محمـد نـاصر اخنـد، د اقتصـاد وزيـر قـاري ديـن محمـد حنيـف، د دولتي شرکتونـو عمومـي رئيـس مولـوي عبدالحميـد اخنـدزاده او يـو شـمېر نـورو مسـؤلينو) ئـې غړيتـوب درلـود، د يـو شـمېر نـورو دولتي شرکتونـو عمـلي چـاري او فعاليتونـه لـه نـږدې وليدل. پـه دغـو شرکتونـو کـې د آزادۍ مطبوعـه، د غوښـو او لبنياتـو د چمتـو کولـو، افغـان تـور، د مکروريانونـو د ساتني او څـارني، د افغانسـتان د نفـت او ګازو، د صکوکـو مطبوعـه او ضرابخانـه او د اصـلاح سـوو کرنيـزو تخمونـو دولتي شرکتونـه شـامل ول. د تخنيکـي او مسـلکي کمېټـې يـادو غـړو د دغـو دولتـي شرکتونـو د ودانيـو، عمـلي چـارو، اداري جوړښـت، ماشـينرۍ، سيسـتمونو، شـته ظرفيـت، موجـودو امکاناتـو، تشـکيل او لـه اسـلامي امـارت څخـه مخکـې او وروسـته د دغـو شرکتونـو د شـته پانګـو ارزونـه او لـه نـږدې څخـه ليدنـه وکـړه. د شرکتونـو مسـؤلينو د خپلـو شرکتونـو د توليداتـو او خدماتـو پـه تـړاو معلومـات وړانـدي کـړل او د چـارو د لا پرمختګ په موخـه ئې په ځينو برخـو کـې د همـکارۍ او ملاتـړ غوښـتنه وکـړه، چـې د کمېټې لـه لوري ورتـه پـه اړونـد برخـو کـې د ملاتـړ او همـکارۍ بشـپړ ډاډ ورکـول سـو. د يـادوني وړده، چـې د دولتـي شرکتونـو د ارزوني لـړۍ لـه پيلېـدو څخـه را پدېخـوا ګـڼ شـمېر دولتـي شرکتونـه د دغـه کمېټـې لـه لـوري ارزول سـوي دي، چـې د اسـلامي امـارت لـه بيـا حاکميـت وروسـته ئـې پـه چـارو کـې مثبـت بدلـون راغلـی او ترځنـګ ئـې د دغـو شرکتونـو پانګـه هـم مـخ په ډېرېدو ښـکاري.

## د پکتيا په ګمرک کي د څه باندي سل کارټنه طبي درملو د قاچاق مخه ونيول سوه



د پکتيـا ګمـرك د تشريـح برخـي کارکوونکـو تېـره ورځ پـه پرچـون (بيلټـي) توکـو بـار يـوه سـوداګريزه محمولـه کـي (١٠٦) کارټنـه طبـي درمـل، چـي غوښـتل ئـې پـه غيـر قانـوني ډول ئـې لـه پاکسـتان څخـه افغانسـتان تـه وارد کـړي، کشـف او ونيـول. د يـادوني وړ ده، چـي اوس مهـال د هيـواد د ګمرکونـو پـه ګودامونـو کـي لـه (٣٥) څخـه تـر (۴٠) ټنـه پـوري نيـول سـوي بـې کيفيتـه درمـل شـتون لـري، چـي عاملينـو ئـې غوښـتل پـه قاچاقـي او غيـر قانـوني ډول ئـې لـه پاکسـتان هيـواد څخـه افغانسـتان ته راوارد کړي.

## د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست خبرتيا!

د ماليـې وزارت د ګمرکونـو لـوی رياسـت پـه وړانديـز او د افغانسـتان اسـلامي امـارت د رياسـت الـوزراء عـالي مقـام د (١٠٧٥) ګڼـې (١۴۴۵-٢-٢٦) نېټـې د حکـم پـر بنسـټ، د هيـواد پـه ګمرکونـو کـي د يـو شـان اجراآتـو او لا روڼتيـا رامنځتـه کولـو پـه موخـه لـه دې وروسـته د ګمرکـي ارزښـت ټاکنـي (قيمـت ګـذارۍ) پـه برخـه کـي انوايـس پـه نظـر کـي نـه نيـول کېـږي. لـه دې وړانـدي يـوازي هغـه توکـي، چـي د پاکسـتان د کراچـي بنـدر څخـه افغانسـتان تـه راواردېـدل، د ګمرکـي ارزښـت ټاکنـي پـه برخـه کـي ئـې انوايـس پـه نظـر کـي نـه نيـول کېـده او هغـه توکـي، چـي لـه نـورو هيوادونـو څخـه افغانسـتان تـه را واردېـدل، د ګمرکـي طـی مراحلـو پـر مهـال ئـې محصـول د ګمرکـي ارزښـت ټاکنـي د اصولـو پـر بنسـټ د انوايـس او يـا هـم د سيسـتم لـه مخـي محاسـبه کېـده، چـي لـه دې سره بـه ئـې يـوه انـدازه ګمرکـي محصـول لوړېـده او بيـا بـه سـوداګرو نـه سـوای کـولای، چـي پـه بـازار کـي سـالم رقابـت وکـړي. د رياسـت الـوزراء عـالي مقـام د يـاد حکـم پـه پـلي کېـدو سره بـه دغـه سـتونزه حـل سي او پـه ټولـو ګمرکونـو کـي بـه د ګمرکـي ارزښـت ټاکنـي پـه برخـه کـي يـوازي د سيسـتم قيمـت پـه نظـر کـي ونيـول سي. همدارنګـه ټـول سـوداګر مکلـف دي، چـي د خپلـو توکـو د ګمرکـي طـی مراحلـو پـر مهـال د پخـوا پـه څېـر د خپلـو توکـو ټـول بهـرني سـندونه لـه ځـان سره ولـري. د يـادوني وړ ده، چـې د ګمرکونـو لـوی رياسـت پـه دې هڅـه کـې دئ، تـر څـو د هيـواد پـه ټولـو ګمرکونـو کـې د سـوداګرو شـته سـتونزي حـل کـړي او هغـه لاملونـه، چـې د مـلي عوايـدو د ضايـع کېـدو سـبب کېږي، له منځه يـوسي.




## سرمقاله

### نگاهی بر فعالیت دوباره شرکت دولتی انکشاف صنایع دستی و ایجاد هزاران شغل برای شهروندان

شرکـت هـای دولتـی یکـی از منابـع مهـم عوایـدی بـرای دولـت بـوده و نیـز مـی توانـد فراهـم کننـدۀ بسـتری باشـد بـرای کاریابـی بـرای هموطنـان و رشـد اقتصـادی کشـور، بـا عنایـت بـه ایـن مسـئله هیئـت رهبری ریاسـت عمومـی شرکـت هـای دولتـی در اثـر هماهنگـی و همکاری رهبری وزارت مالیـه تقویـت و رشـد شرکـت هـای دولتـی را یـک گام مهم در راستای ایجـاد درامـد پایـدار بـرای دولـت و موتـور توسـعه رشـد اقتصادی کشور مـی دانـد، از همیـن رو طی دو سـال اخیـر تـلاش هـای زیـادی صـورت گرفتـه است تـا شرکـت هـای دولتـی دوبـاره احیـا گردنـد، کـما اینکـه شـاهد استیم در طـی دو سـال گذشـته فعالیت هـای تجارتـی ١٢ شرکـت بـه شـکل ابتدایـی آن آغـاز گردیـده اسـت. هیئـت رهـبری ریاسـت عمومـی شرکـت هـای دولتـی در تـلاش اسـت تـا شرکـت هـای فعـال شـده فعالیـت هـای شـانرا بـه صـورت تدریجـی گسـترش دهنـد و دوبـاره بتواننـد سـهم درخـور را در بـازار اقتصـادی کشـور بدسـت بیاورنـد. یکـی از شرکـت هـای کـه از سـال هـای متـمادی بدینسـو فعالیـت اساسـی نداشـت و کامـلا بـه رکـود مواجـه بـود، شرکـت دولتـی صنایـع دسـتی افغانستان بـود، هیئـت رهـبری ریاسـت عمومـی شرکـت هـای دولتـی در اثـر همـکاری رهـبری وزارت مالیـه روی برنامـه هـای اصلاحـی کار کـرد تـا فعالیـت اساسـی ایـن شرکـت از سر گرفتـه شـود، کـما اینکـه شـاهد استیم ایـن شرکـت از یـک و نیـم سـال بدینسـو دوباره فعالیـت تجارتـی خویـش را از سر گرفتـه و در هـژده سـکتور مختلـف از جملـه سـاخت لبـاس هـای افغانی، وسـایل تزیینـی، قالیـن بافـی، بافندگـی، حکاکـی، زرگـری زیـورات قیمتـی، نگیـن کاری و دیگـر بخش هـای مهـم فعالیـت مـی نمایـد و تـا اکنـون توانسته اسـت کـه زمینـه کاری مسـتقیم و غیـر مسـتقیم را بـرای بیش از هـزار تـن بـرای هموطنـان عزیـز مسـاعد سـازند. مسـؤلین شرکـت دولتـی انکشـاف صنایـع دسـتی مـی گویـد کـه شرکـت نامـبرده تـا اکنـون در چندیـن نمایشـگاه ملـی و بیـن المللـی اشـتراک نمـوده و زمینـه را بـرای فـروش فـراورده هـای شـان مسـاعد سـاخته اسـت. آنـان مـی افزاینـد کـه عـلاوه بـر مـردان تعـداد زیـادی از خانـم هـا نیـز در بخـش صنایع دسـتی بـا ایـن شرکـت همـکاری دارنـد. بـه گفتـه آنهـا اکـثر خانـم هـا در خانـه هـای شـان کارگاه دارنـد و تولیـد می نماینـد و از خانـه هـای شـان بـا شرکـت دولتـی صنایـع دسـتی همـکاری مـی نماینـد. آنـان مـی گوینـد اگـر مقامـات دولـت بـه ایـن بخـش توجـه نماینـد ظرفیـت هـای بالقـوۀ فروانـی در ایـن شرکـت موجـود اسـت کـه مـی توانـد عوایـد ملـی را افزایـش داده و زمینـه کاری را بـرای تعـدادی زیـادی از شـهروندان مسـاعد سـازد. گفتنـی اسـت کـه شرکـت انکشـاف صنایـع دسـتی درسـال ١٣۴٥ درچـوکات وزارت معـادن ایجـاد کـه بعـداً نظـر بـه لـزوم دیـد مقامـات وقـت بـه وزارت تجـارت ملحـق گردیـــده و سـپس در سـال ١٣٥۴ بـه اسـاس تصمیـــم حکومـت وقـت منحیـث یـک شرکـت سـهامي صـد فیصـد دولتـي غـرض توسـعه

ادامه : ص ٢





د ګمرکونو او عوایدو معین خوست، پکتیکا او پکتیا ولایتونو ته سفر وکړ!

م ٢



د عوایدو لوی ریاست مسؤلینو له ۱۴۰ کسانو څخه تحریري او تقریري ازموینه واخیسته

م ٣



د مالیې وزارت د خزاینو لوی ریاست پلاوي پروان او کاپیسا ولایتونو ته سفر وکړ

م ٢



د ګمرکونو لوی رئیس د ننګرهار ګمرک له چارو څخه لیدنه وکړه

م ٢




د ګمرکونو لوی ریاست خبرتیا!

م ٢



Delegation of Evaluation Committee of SOCs Evaluates Pragmatic Performance of Some Other State-owned Corporations

م ٤

شتمنی
SHTAMANAI
اوونیزه

## د گمرکونو او عوایدو معین خوست، پکتیکا او پکتیا ولایتونو ته سفر وکړ!





د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو معین ښاغلي ملا عبدالقاهر ادریس د یوه رسمي سفر په لړ کي د پکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونو له گمرکونو او مستوفیتونو څخه لیدنه وکړه.

د یادو گمرکونو او خوست مستوفیت مسؤلینو او کارکوونکو د گمرکونو او عوایدو له معین سره په اړوندو چارو کي د خپلو شته ستونزو یادونه وکړه، چې د نوموړي له لوري د ژر حل کېدو ډاډ ورکړل سو. په ورستیو کي د گمرکونو او عوایدو معین یادو مسؤلینو او کارکوونکو ته د چارو د لا ښه والي په موخه لازمي سپارښتني وکړې.

د یادوني وړ ده، چې د گمرکونو او عوایدو معین د هیواد بېلابیلو گمرکونو ته رسمي سفرونه کوي، څو د اړوندو مسؤلینو او سوداگرو ستونزي او وړاندیزونه له نږدې څخه واوري او شته امکاناتو او اصولو ته په کتو سره ورته رسېدنه وکړي.

## د مالیې وزارت د خزاینو لوی ریاست پلاوي پروان او کاپیسا ولایتونو ته سفر وکړ

د خزاینو لوی ریاست یوه (۱۲) کسیز تخنیکي پلاوي، چې مشري ئې د افغانستان د مالي مدیریت د معلوماتي سیسټم (افمیس) رئیس ستارالدین معتصم او د محاسباتو رئیس محب الله صاحبزاده کوله، د پروان او کاپیسا ولایتونو له مالي چارو، پرسونل روزني، د غیر ضروري کنټرولونو او بیروکراسۍ د پای ته رسولو، د مستوفیتونو او ولایتي ادارو تر منځ د همغږۍ د پیاوړتیا، د اداري چارو د غوره والي او شفافیت، د اوږدو پروسو د لنډولو، دقیق او پر وخت حساب ورکوني، د جنسي محاسبې د نوي تعلیم لیك او نورو اړوندو مواردو څخه لیدنه وکړه.




یاد پلاوي لومړی د پروان او کاپیسا ولایتونو له مستوفیانو (مولوي عبدالوهاب عمري او مفتي عبدالخالق حقاني) او د دغو مستوفیتونو د مالي ریاست له کارکوونکو سره وکتل او هغوی ته ئې د سفر د موخو په تړاو کره معلومات وړاندي کړل.

همدارنگه د پروان او کاپیسا مستوفیتونو د مالي آمرینو له لوري د مالي چارو اړوند د ټولو روانو پروسو په اړه پریزنټېشن وړاندي سو، چې د تخنیکي همکارانو له خوا ئې ستونزي او نیمگړتیاوي په گوته سوې. وروسته بیا تخنیکي پلاوي هم د هر شخص د مسؤلیتونو په اړه پریزنټېشن وړاندي کړ او د گډونوالو پوښتني ئې ځواب کړې.

ورپسې تخنیکي همکارانو د مستوفیت د مالي آمریت له ټولو اړوندو برخو څخه له نږدې لیدنه وکړه او د کار په ترځ کي ئې هغوی ته په هره برخه کي زده‌کړې ورکړې، تر څو هغه ستونزي او نیمگړتیاوي، چې مالي آمریت ورسره مخ دئ، حل سي او په هیواد کي شته ستونزي په نښه او د اړینو پرېکړو په موخه له مرکز سره شریکي سي.

ورپسې د پروان او کاپیسا ولایتونو د مرستیال والیانو (شیخ اسدالله سنان او مفتي محمد ادریس انوري) په مشرۍ د ولایتي ادارو د ټولو رئیسانو او یادو ولایتونو د خپلواکو ادارو د آمرینو ترمنځ د همغږۍ د پیاوړتیا په موخه د لگښتونو د سپما، د مالي چارو د بهیر غوره والي، د بې ځایه او غیر ضروري لگښتونو د مخنیوي، د افغانستان د اسلامي امارت د عالي مقام د حکمونو او فرمانونو پلي کولو او د مالي چارو او عامه لگښتونو د اداري قانون او د مالیې وزارت لارښوونو په تړاو غونډې ترسره سوې.

لومړی د افغانستان د مالي اداري معلوماتي سیسټم (افمیس) رئیس ستارالدین معتصم د دغه سفر د موخو، د بیت المال د ساتني، له بیت المال څخه د شفافي استفادې د څرنگوالي او په ټول هیواد کي د شفافو او دقیقو عوایدو د راټولولو په اړه له ولایتي ادارو سره د همغږۍ پر پیاوړتیا خبري وکړې. همدارنگه د محاسباتو رئیس محب الله صاحبزاده د مالیې وزارت او د خزاینو لوی ریاست د مهمو دندو او مسؤلیتونو، په ولایتونو کي د مستوفیتونو د موقف او ارزښت، په (۱۴۰۱) مالي کال کي د ولایتونو د لگښتونو او عوایدو او په (۱۴۰۲) مالي کال کي د ضروري او غیرضروري لگښتونو په اړه گډونوالو ته تفصیلي پرزنټېشن وړاندي کړ او بیا د پلاوي لخوا د ادارو د رئیسانو پوښتنو او غوښتنو ته د قناعت وړ ځوابونه ورکړل سول، چې د دوی غوښتني به د اقدام په موخه له چارواکو سره شریکي سي.

غونډې د مرستیال والیانو په دعایې سره پای ته ورسېدې.

د ولایتي ادارو له رئیسانو سره تر لیدنو وروسته د اړوندو ادارو د مالي او اداري برخو له آمرینو سره د مالي پروسو په برخه کي د پورتنیو موخو د پلي کولو او د دوی د ستونزو اوریدو په موخه ناستي ترسره سوې، په دې غونډه کي د گډونوالو له خوا پوښتني مطرح سوې، چې پلاوي ئې ځوابونه وړاندي کړل او په دې اړه لازم هدایات هم ورکړل سول.

## د گمرکونو لوی ریاست خبرتیا!

د مالیې وزرات د گمرکونو لوی ریاست ټولو هغو سوداگریزو شرکتونو ته، چې تر اوسه ئې د خپلو سوداگریزو توکو د گمرکي طی مراحلو لپاره خپل رسمي استازي نه دي معرفي کړي، خبر ورکوي، چې ژر تر ژره خپل استازی د سوداگرۍ او پانگوني خوني له لاري د گمرکونو لوی ریاست او یا هم ولایتي گمرکونو ته معرفي کړي.

د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ د حکم له مخي ټول سوداگریز شرکتونه مکلف دي، چې په گمرکونو کي خپل سوداگریز توکي د رسمي استازي له لوري طی مراحل کړي. همداشان د دې حکم له مخي یو شخص کولای سي، چې حد اکثر د درو شرکتونو استازیتوب وکړي.

یاد حکم اوس مهال د هیواد په ټولو گمرکونو کي د پلي کېدو وړ دئ او د سوداگریز شرکت له رسمي استازي پرته بل چاته اجازه نه ورکول کېږي، چې گمرکي طی مراحل تر سره کړي.

د یادوني وړ ده، هغه سوداگریز شرکتونه، چې تر اوسه ئې خپل رسمي استازي نه دي معرفي کړي، خپل غوښتنلیکونه دي په مرکز او ولایتونو کي د سوداگرۍ او پانگوني خوني ته وسپاري، چې د پانگوني خونه بیا د دوی غوښتنلیکونه د رسمي مکتوب له لاري د نورو اجراآتو لپاره د گمرکونو لوی ریاست او یا هم ولایتي گمرکونو ته استوي.




ادامه : سرمقاله

صادرات، تزئید حجم تولیدات و بهبود کیفیت آن و کمك به مولدین این صنعت با سرمایه ابتدایي دو میلیون افغاني تاسیس و شروع به فعالیت نمود. که با وصف مشکلات، شرکت متذکره فعالیت نورمال داشته و سرمایه ابتدائي آن در ظرف پنج سال به بیست میلیون افغاني ارتقا نمود. در سال ۱۳٦۴ نهاد متذکره به اساس تجویز مقامات ذیصلاح وقت به تصدي دولتي تغییر شخصیت حقوقي نمود. متعاقباً به اساس فیصله حکومت وقت در ربع آخیر سال ۱۳۷۰ تصدي مذکور به شرکت سهامي مختلط با سهامت ٦۰٪ جانب سکتور خصوصي و ۴۰٪ جانب دولت با سهم ابتدایی ۵۰۰ میلیون افغاني پول مروجه وقت، تغییر شخصیت حقوقي نموده رسماً به فعالیت آغاز نمود. که با آغاز فعالیت این مرکز، تولیدات صنایع دستي افغانستان به کشورهاي اروپایي، آسیایي، امریکایي و غیره کشور هاي جهان صادر گردیده که علاوه بر کسب منفعت سبب ورود میلیون ها دالر به داخل کشور می گردید. بلاخره شرکت نامبرده در سال ۱۳۹۹ از شرکت سهامی مختلط به شرکت دولتی تغییر شخصیت حقوقی نموده و در سنبله ۱۴۰۱ فعالیت های اساسی اش را از نو آغاز کرد. هم اکنون غرض فعالیت هرچه بیشتر شرکت، تلاش های زیادی از جانب مقامات ذیصلاح در جریان است، زیرا این نهاد ممثل فرهنگ اصیل و باستانی کشور می باشد، بناءً از لحاظ فرهنگی و هنری ایجاب می نماید تا شرکت فعالیت های اساسی اش را هر چه بیشتر گسترش دهد و بتواند فرهنك اصیل افغانی را در نمایشگاه های ملی و بین المللی معرفی نماید، افزون بر آن به عنوان یك چشمه عوایدی بودجه دولت را کمك نماید و زمینه کاری را برای تعداد بیشتری از هموطنان فراهم نماید. قابل یادآوری است که عواید اساسی و غیر اساسی شرکت از زمان آغاز به فعالیت اش در بخش عواید اساسی و غیر اساسی رشد ٦۵ درصدی را تجربه کرده است، مسئولان ریاست عمومی شرکت های دولتی امیدوار اند که شرکت نامبرده بتواند به رشد عوایدی خود ادامه دهد و آهسته آهسته جایگاه تاریخی اش را دوباره احراز نماید.

**با احترام**

**اداره**

## د گمرکونو لوی رئیس د ننگرهار گمرک له چارو څخه لیدنه وکړه




د مالیې وزارت د گمرکونو لوی رئیس ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید او د دې ریاست عملیاتي مرستیال ښاغلي نقیب الله عابد، ننگرهار ولایت ته رسمي سفر وکړ او هلته ئې د یاد ولایت د گمرك له چارو د ارزوني تر څنگ له یو شمېر سوداگرو سره هم ولیدل.

د گمرکونو لوی رئیس د ننگرهار ولایت د سوداگرۍ خوني له مسؤلینو او یو شمېر سوداگرو سره په لیدنه کي د سوداگرۍ په برخه کي د دوی شته ستونزي واورېدې، نوموړي د دوی اکثره ستونزو ته رسېدنه وکړه او د پاته نورو ستونزو د ژر حل کېدو ډاډ ئې ورکړ.

همدارنگه یاد پلاوي تورخم گمرك ته هم سفر وکړ او هلته ئې د یاد گمرك چاري له نږدې څخه و ارزولې او کارکوونکي ئې په اړوندو چارو کي لا ښه خدمت کولو ته وهڅول.

د یادوني وړ ده، چې د گمرکونو لوی رئیس بېلابیلو گمرکونو ته سفرونه کوي، څو د گمرکونو د ورځنیو چارو د ارزوني تر څنگ د سوداگرو ستونزي له نږدې واوري او ورته رسېدنه وکړي.

شتمنۍ
SHTAMANAI
اوونیزه



# په مالیاتي ادارو کې د فساد علتونه، اغېزې او د مخنیوي لارې چارې

د مالیې وزارت د دعوت ارشاد
ریاست

د فساد پېژندنه: فساد د قانون ماتولو په معنی کارول کېږي او مختلف ډولونه لري. مثلاً: مالي، اداري، اخلاقي او داسې نور... له بده مرغه فساد ساري ناروغی ته ورته دئ، چې له یوه نهاد څخه بل نهاد ته په چټکۍ سره انتقالېږي، په نهادونو باندي هیوادوال بې باوره کوي، د فقر باعث گرځي، د خلکو د ناهیلی، د کارونو د خنډ، ځنډ، کیفیت خرابوالي او په لویه کې د نظامونو د راپرځېدو باعث گرځي. که څه هم نه اوس او نه پخوا د ا.ا.ا په لیکو کې د فساد څرک تر سترگو کېدئ، مگر احتیاطي تدابیر او د حل لارې چارې بیانول د وگړو خپل مسؤلیت دئ. معمولاً د هیواد د اقتصادي ثبات لپاره په مالي مدیریتونو کې د فساد په کلي ډول ختمول اړین دي، تر څو په هره برخه کې پوره روڼتیا رامنځته سي. دلته لومړی د فساد په رامنځته کېدونکو علتونو باندي لنډ مگر جامع بحث کوو، بیا ئې د حل په لارو چارو خبري کوو او په پای کې به ئې اغېزې واضح کړو.

## په مالیاتي نظام کې د فساد علتونه

- د پیاوړي نظارت او څارني نشتون.
- د شفافیت او ستندرډونو اړوند پیچلي قوانین.
- د مسؤلینو غفلتونه.
- کمزوری سازماني فرهنگ او تگلاره.
- کمزوري کاري روحیه.
- د اسلام پالني او وطن پالني د احساس نه موجودیت.
- د کارکوونکو په تخلفاتو باندي سترگي پټول.
- د کارکوونکو د امتیازاتو او مالي حقوقو کموالی.
- مدیرانو ته له حده زیات صلاحیت ورکول.
- د مجازاتو نشتون.

## په مالي بنسټونو کې د فساد د مخنیوي لارې چارې

ددې لپاره، چې د فساد مخه ونیول سي او عواید په ښه توگه مدیریت سي؛ نو لاندي کړنې د مالي مدیریت لپاره خورا اړیني معلومېږي.

- ټولو هیوادوالو ته شرعي لارښووني کول او دوی ته د هر ډول فساد اړوند دیني وعیدونه بیانول.
- په فکري لحاظ دوی ته د اسلام پالني او هیواد پالني روحیه ورکول.
- د هیواد په ټولو گمرکونو کې د اسیکوډا سیستم بیا فعالول.
- په مستوفیتونو کې د سکتاس سیستم بیا فعالول.
- د امکان تر حده باید بیروکراسي یا کاغذي سیستم راکمول.
- د امکان تر بریده باید ټول سیستمونه الکترونیکي سي.
- که ممکنه وي د احتساب یا (Accountability) لپاره باید یوه کمېټه، آمریت او یا ریاست په هر ولایت کې ایجاد سي.
- د سوداگریزونو بانکونو او صرافیانو جدي څارنه او کنټرول باید د مرکزي بانك له لوري وسي.
- په فساد د مرتکب سوو کسانو مجازات کول.
- عامه پوهاوی.
- د نظارت یو جامع او پراخ سیستم رامنځته کول.
- په مالیاتي نظام کې د فساد د مخنیوي اړوند ځیني پالیسی او قوانین تدوینول.
- ټول شمولی نظارت (معنی ولس باید ځان مسؤل احساس کړي او د هر ډول فساد په وړاندي اړوند چارواکو ته خبر ورکړي.)

## د مالي فساد اغېزې:

- د دولت د منابعو په تخصیص باندي فوق العاده منفي اغېز لري.
- د عوایدو په عادلانه وېش باندي هم منفي اغېز لري.
- په اقتصادي وده او پرمختیا باندي منفي اغېز لري.
- د کمو پیداکېدونکو سرچینو په ناسالم تخصیص منفي اغېز لري.
- د وگړو حقوق پایمال کېږي.
- د دولت لگښتونه لوړوي.
- د دولت عواید کموي.
- اقتصاي او سیاسي بې ثباتي رامنځته کوي.
- طبقاتي جوړښت رامنځته کوي.
- خلك له دولت څخه ناهیلي کېږي.
- نظام د سقوط تر کچې رسوي.
- د بودیجې کسر رامنځته کوي.

# د عوایدو لوی ریاست مسؤلینو له ۱۴۰ کسانو څخه تحریري او تقریري ازموینه واخیسته

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست مسؤلینو له هغو کسانو څخه، چې عوایدو لوی ریاست مقام ته ئې د گومارني په موخه وړاندیزلیکونه سپارلي وه، ازموینه واخیسته. یاده ازموینه د عوایدو لوی ریاست عملیاتي مرستیال ښاغلي معراج محمد معراج، د مالیه ورکوونکو د خدمتونو رئیس ښاغلي عبدالقیوم نصیر، د عوایدو لوی ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر ښاغلي سید احمد هاید او ددې ریاست یو شمېر نورو مسؤلینو په حضور کې د گمرکونو او عوایدو معینیت په جومات کې واخیستل سوه. په دغه ازموینه کې (۱۴۰) کسانو، چې د لیسانس او ماستېرۍ تر کچې ئې لوړې زده کړې وې گډون کړی وو. د ازموینې په پیل کې د عوایدو لوی ریاست مسلکي کارپوه ښاغلي محمد نادر همایون، خبري وکړې او په خپلو خبرو کې ئې پر شفافیت ټینگار وکړ او زیاته کړه، چې بریالي کسان به د مسلك او کاري تجربې اړوند په اداري برخو کې وگومارل سي. له تحریري ازموینې وروسته د ازموینې له ټولو گډونوالو څخه تقریري ازموینه هم واخیستل سوه.



# د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست رهبرۍ او ترکمنستان هیواد د استازو ترمنځ د مضاعف مالیې اړوند آنلاین پېژند غونډه تر سره سوه

دغه غونډه چې د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست عملیاتي مرستیال ښاغلي معراج محمد معراج، د دغه ریاست تخنیکي مرستیال ښاغلي عبدالولي نوري او د عوایدو د خدمتونو او پالیسۍ رئیس ښاغلي نداء محمد صدیقي پکښې گډون کړی وو. د افغانستان او ترکمنستان هیواد ترمنځ د مضاعف (دوه برابره) مالیې ورکړې د مخنیوي تړون په چوکاټ، مهمو ټکو او غوښتنو باندي بحث وسو او همدارنگه د افغانستان لخوا د ترکمنستان هیواد استازو ته د مضاعف (دوه برابره) مالیې د مخنیوي لپاره په حضوري ډول کابل ته د لومړنیو خبرو اترو لپاره دعوت ورکړل سو چې د مقابل لوري څخه ومنل سو.

# اعلانات داوطلبی

### د کابل ولایت اړوند دولتي ملکیتونو د داوطلبی خبرتیا!

شنبه ۲۵/٦/۱۴۰۲

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ولایت اړوند دولتي ملکیتونه په جلا جلا ډول د داوطلبی له لاري اعلان ته وسپاري.

۱. د کابل ولایت د (۱) ناحیې اړوند د سینما پامیر (۱۴) منزله ودانۍ سره یو باب دوه منزله تجارتي مارکېټ، چې (۵۱۵) متره مربع مساحت لري.

۲. د کابل ولایت د (۷) ناحیې اړوند ویصل آباد سره د (٦) جریبه او (٦ ) بسوې ځمکه.

۳. د کابل ولایت د (۱۷) ناحیې اړوند د سرای شمالي ده کیپك بادام باغ سره د (۷۷۷) متره مربع ځمکه.

ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي نوموړی ملکیت په کرایه ونیسي کولای سي، خپل غوښتنلیکونه د اعلان له نشر څخه وروسته د (۱۴) ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپانه د اسنادو له ارزوني او لومړني قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.

دوشنبه ۸/۸/۱۴۰۲

### د عوایدو لوی ریاست د مستوفیتونو لپاره د (۴۵۰) پایو کمپیوټرونو د تدارک پروژې د داوطلبی خبرتیا!

پنجشنبه ۲۳/٦/۱۴۰۲

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې ( د عوایدو لوی ریاست د مستوفیتونو لپاره د (۴۵۰) پایو کمپیوټرونو د تدارك ) پروژه، چې تشخیصیه نمبر ئې ( ۰۷٤-NCB/G/۱٤۰۲/MOF) دئ او د داخلي خلاصې داوطلبی په بڼه تر سره کېږي، برخه واخلي؛ نو شرطپانه ئې په پښتو او دری ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي آدرسونو څخه ترلاسه کړئ.
د آفر گشایي څخه مخکې د جلسې نېټه: ۴/ میزان/ ۱۴۰۲ کال – ۱۰:۰۰ بجې مخکې له غرمې
د آفر گشایي ټاکلې نېټه: ۱٦/ میزان/ ۱۴۰۲، وخت ۱۰:۰۰ بجې مخکې له غرمې
د آفر تضمین: چې (٦۱۲۰۰۰) شپږ لکه او دوولس زره افغانۍ ئې یوازي بانکي تضمین دئ.
ځای: د مالیې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت – پښتونستان واټ.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦
یکشنبه ۱٦/۷/۱۴۰۲

### د عوایدو لوی ریاست د مستوفیتونو لپاره د پرینټرونو، فوټوکاپی ماشینونو او یو پي اس د تدارک خبرتیا!

پنجشنبه ۲۳/٦/۱۴۰۲

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې ( د عوایدو لوی ریاست د مستوفیتونو لپاره د پرنټرونو، فوټوکاپی ماشینونو او یو پي اس د تدارك ) پروژه، چې تشخیصیه نمبر ئې ( ۰۷۵-NCB/G/۱٤۰۲/MOF) دئ او د داخلي خلاصې داوطلبی په بڼه تر سره کېږي، برخه واخلي؛ نو شرطپانه ئې په پښتو او دری ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي آدرسونو څخه ترلاسه کړئ.
ځای: د مالیې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت – پښتونستان واټ.
د آفر گشایي ټاکلې نېټه: ۱۷/ میزان /۱۴۰۲
د آفر تضمین: چې (۸۰۰۰۰۰) اته لکه افغانۍ ئې یوازي بانکي تضمین دئ.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٥۸٤
دوشنبه ۱۷/۷/۱۴۰۲

### د مالیې وزارت د مرکزي شعباتو د اړتیا وړ ۴۳ قلمه قرطاسیې د تدارک پروژې د داوطلبی خبرتیا!

شنبه ۲۵/٦/۱۴۰۲

د داوطلبی گڼه: ۰۷۱-NCB/G/۱٤۰۲/MOF

د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې د مالیې وزارت د مرکزي شعباتو د اړتیا وړ (۴۳) قلمه قرطاسیې د تدارك پروژه کې گډون وکړي او اړونده شرطپانه د تدارکاتو مشاوریت څخه په میموري یا فلش کې تر لاسه کړي، خپل آفرونه د شرطپاڼي د مندرجاتو مطابق او د تدارکاتو د قانون او کړنلاري په رڼا کې ترتیب او په سرپوښلي ډول ئې د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه د (۱۴۰۲) تلې میاشت (۲۲) نېټې د سهار تر ۱۰:۰۰ بجو پوري په دوهمه ناحیه، پښتونستان واټ کې د مالیې وزارت د تدارکاتو ریاست ته وړاندې کړي، انټرنیټي او ناوخته رسیدلي آفرونه د منلو وړ نه دي. د آفر تضمین د بانکي تضمین په ډول (۳۰۰،۰۰۰) درې سوه زره افغانۍ دئ او د آفر پرانیستنې غونډه د ۲۲/تلې/۱۴۰۲ نېټې د سهار پر ۱۰:۰۰ بجو د تدارکاتو آمریت کې پر لاره اچول کېږي.
یکشنبه ۳۰/۷/۱۴۰۲



د امتیاز خاوند: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: حبیب الله حُبیب
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبپاڼه: mof.gov.af
ټویټر: @ afghanistanmof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

شتمنۍ SHTAMANAI
اوونیزه




## د کور جوړوني ساختماني ریاست نوې ارزښت ټاکنه

د مالیې وزارت اړوند د ملي پراختیا شرکت د کور جوړوني ساختماني ریاست د ارزښت ټاکنه ترسره سوه، چې د تصفیې او ارزښت ټاکنې څخه وروسته د دغه شرکت پانگه له (۲۸٦) میلیونه افغانیو څخه (۱۷،۷٦۷) میلیارډه افغانیو ته لوړه سوې ده او (۱۷،٤۸۱) میلیارډه افغانۍ زیاتوالی پکښې څرگندېږي.
د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د تېرو دوو کالو په موده کې دولتي شرکتونو ته د اسلامي امارت د رهبرۍ له لوري ځانگړې پاملرنه سوې ده، چې په پایله کې د دولتي شرکتونو پانگه زیاته سوې ده.




## Members of SOCs Evaluation Committee Visit Some Other Corporations' Operations

Since pragmatic visits and evaluations of state-owned corporations (SOCs) have been continued, in the turn under the leadership of Maulawi Ahmad Jan Bilal a selective, special and technical committee's members were appointed for the purpose of evaluation of the status of state-owned corporations to visit Afghan Gas SOC, Sukuk Printing Press SOC and Agricultural Service & Genetically-modified Seeds SOC.

Acting Minister of Finance Mullah Muhammad Naser Akhund, Acting Minister of Economy Qari Din Muhammad Hanif, General Director of SOCs Maulawi Abdul Hamid Akhundzada and some other officials under the leadership of Maulawi Ahmad Jan Bilal visited and evaluated the mentioned State-Owned Corporations' buildings, operations, administrative structure, machineries, systems, existing capacity and available possibilities.

Corporations' staff presented information regarding the products & services of corporations, and asked for more assistance and supporting about some parts of their affairs with the intention of further progressive; as in outcome members of committee pledged for the support and co-operation in this regard.

## Delegation of Evaluation Committee of SOCs Evaluates Pragmatic Performance of Some Other State-owned Corporations

A selective, special, joint, technical and professional committee was appointed by the leadership of IEA, Amirul Momineen (may Allah protect him) for the purpose of assessment of State-owned Corporations (SOCs), which was led by Maulawi Ahmad Jan Bilal and Minister of Finance Mullah Naser Akhund, Minister of Economy Qari Din Muhammad Hanif, General Director of SOCs

Maulawi Abdul Hamid Akhundzada and a number of other officials were as members to visit the practical operations and activities of some other SOCs. These corporations included Azadi Printing Press SOC, Meat & Dairy Products, Afghan Tour, Mocroryan Preservation & Maintenance, Afghan Gas & Oil, Sukuk Printing Press and Agricultural Service & Genetically-modified Seeds SOCs. The technical and professional committee members evaluated the buildings, pragmatic operations, administrative structure, machinery, systems, existing capacity, available possibilities, structure or formation and the available capital of these corporations before and after IEA were all visited for the assessment.



Corporations' officials presented information regarding the products & services of corporations, and asked for more assistance and supporting about some parts of their affairs with the intention of further progressive; as in outcome members of committee pledged for the support and co-operation in this regard.

It is worth noting that since the inception of evaluation series of State-owned Corporations, many SOCs have been evaluated by mentioned committee and after the re-establishment of IEA, there has been a positive change in its affairs and the capital of these corporations also sounds to be escalated.

## Notice of General Directorate of Customs of MoF

Based on the proposal of the General Directorate of Customs of MoF and issuing order (۱۰۷۵/۱۴۴۵-۲-۲۶) of the Highness of Prime Ministership of IEA, with the intention of creating equivalent processing and more transparency in the country›s customs, invoice in customs valuation will not be considered in all customs afterward.

Before this, only the goods that were imported to Afghanistan from the port of Karachi, Pakistan were not considered as invoices in determining the customs value. But commodities that were imported to Afghanistan from other countries were considered during customs procedures as at that time, the tax was calculated based on the principle of pricing of invoice or any system, which would increase the amount of customs duty and traders were not be able to compete in the market. With the implementation of the order of the



Highness of Prime Ministership, this problem will be solved and merely the system price will be taken into consideration in determining the customs value in all customs. In addition, all businessmen are obliged to have all foreign documents of their merchandises during the customs process of their goods as before.

It is worth mentioning that the GD of Customs endeavors to solve the existing problems of traders in all the customs offices of the country and get rid of the factors, which cause the loss of national revenues.

## Notice Regarding General Directorate of Customs

The GD of Customs of MoF informs all those commercial corporations that have not yet introduced their official representatives for the customs procedures of their commercial goods to introduce their representatives through the Chamber of Commerce & Investment to the General Directorate of Customs or Provincial Customs.

According to the order of the leadership of the IEA, all commercial corporations are obliged to process their merchandise at the customs through an official representative. Moreover, according to this order, one person can take burden of representativeness of maximum three corporations. This order is right now applicable in all customs offices of the country and no one other than the official representative of the commercial corporation is allowed to carry out the customs procedures.



It is worth mentioning, the commercial corporations that have not yet introduced their official representatives should submit their applications to the Chamber of Commerce and Investment in center Kabul and provinces, and the Chamber of Commerce will have sent their applications through an official letter to the GD of Customs or Provincial Customs for further processing.